**د Eبرخه:**دزراعت او مالدارئ برخه

**درېم درس**: دمرغدارئ دفن پیژندنه

**دزده کونکو دزده کړي موخي:**
د دې درس په نتیجه کې به زده کونکي دلاندې موخو سره اشنا شي:

١. دالوتونکوتشریح کول دژوندیو موجوداتو په شکل او دهغوي د باندنی غړوتشخیص.
٢. دمرغدارئ یا پولټري داصطلاحاتو تشخیص.
٣. دمرغدارئ(الوتونکو) دنوعو او قسمونولست او تشحریح کول.

**ددرس ورکولو لپاره وخت:** ٣ ساعته(ګړئ)

پیشنهاد(وړاندېز) شوي منابع یا ذخیري: ددې درس په تدریس کولو کې لاندې ذخیري ګټوري تمامیدی شي:

Ensminger, M. E., *the Stockman's Handbook.* Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc. 1992

Cooper, Elmer L., Burton, DeVere L., *Agriscience Fundamentals and Applications*. Albany, New York: Delmar. 2002 (Textbook Unit 29)

دانټرنیټ اساسي کلیمی: مرغداري یا دالوتونکو روزنه(الوتونکي)، ځوانه چرګه (نوی هګئ اچونکی) مرغاوئ چرګوړی،فیل مرغ، بته، شترمرغRatite،قازه Swan، صحراي لوي قوقاول Peafowl، کم ارزښته Foul هګئ

**دسامان الاتو،وسایلو او لازمو اسانتیاو لړلیک**
دلیکلوپه خاطر سپینه ورقه یا صفحه
دپاورپواینټ پروګرام په خاطر غټ ښودونکی (پراجکتور)
دپاورپواینټ (دکمپیوټرپروګرام) صفحي
روښانه سلایدونه یا صفحي
دلابراتوار دورقو کاپي ګاني

**اصطلاحات:**په دی درس کی لاندی اصطلاحات کارول کیږی (ذکر شوی اصطلاح ګانی دپاورپواینټ په دوهم ګڼه سلاید یا صفحه کی وړاندی شوی دی)
کم عمره لنډ چرګوړی (bantamas)

کبابی چرگان (Broiler)

چرگوړی

نرچرگ

مرغاوی(نر) (Drake)

دمرغاوۍ بچی Duckling

قاز( نر- بته)

ځوانه چرگه (ځوانه چرگه چی تازه په هگیو راغلی وی) Pullets

چرگوړی Roosters

نربالغ فیل مرغ (Tom)

دبتی بچی (Gosling)

چرگانی(ښځینه)

Layers

چرگوړی (Poult)

مرغداري یا پولټری

دځوانو الوتونکو تولید کونکي (چی نوی یا تازه هگۍ ورکونکی دی)

**په زړه پوری تګ لاره:** له په زړه پوری تګ لاری ګټه واخلئ ترڅو زده کونکی د درس دزده کولو لپاره تیار شی. ډیری ښوونکی د زده کونکو دصنفونو لپاره دځانګړو تګ لارو نه کار اخلی. کولی شو چی د لاندی تګ لاره څخه دیوی ممکنه تګ لاری په توګه یادونه وکړو:

**دهغه الوتونکو دهګیو یوه نوعه راټولی کړئ کوم چی ستاسی په چاپیریال کی ساتل کیږی، دا هګۍ د رنګ، درجې او مختلف وزنونو دښودلو په خاطر په سطحه کیږدئ، اوس زده کونکی دی ته چمتو کړی ترڅو دهګیو د مختلف والی یا توپیر په فکر کی شی.**

**دمحتویاتو لنډیز او د درس ستراتیژی**

۱. دالوتونکو تشریح دژوندیو موجوداتو په څیر او دهغوی د باندنی غړو تشخیص.

**اټکل شوی مشکل:** پولتری (مرغداری) څه شی دی؟

**له زدوه کونکو غوښتنه وکړئ ترڅو هغه ځایونه لست کړی چی مرغداری ولری. ایا دا محلات دهغه ځایونو سره چی نورحیوانات په کی ساتل کیږی ورته دی او که توپیر لری؟**

I. پولټری دټولو کورني الوتونکو یو ګروپ ته ویل کیږی چی دغوښې، هګیو او بڼکو په منظور ساتل کیږی. همدارنګه پولټری الوتونکو او چرګانو ته اشاره کوی. دا الوتونکی د وزرونو، شمزۍ او بڼو لرونکی دی چی ځنی یی دلامبو کولو قدرت هم لری. **دپاورپواینټ دریمی ګڼی سلاید یا صفحی ته متوجه شئ.**

الف) دپولټري يا مرغدارۍ لوی توپیر دنورو حیواناتو سره دادی چې دوی نسبت حیواناتو ته د هضمی او تولید مثل توپیری سیستمونه لری.الوتونکی د غاښونو په عوض د شاتینګی لرونکی دی.دتولید مثل سیستم یی داسی دی چې وروسته له جفت ګیری څخه الوتونکی هګۍ اچوی. دالوتونکو په تولید مثل یا تکثیر کی په زړه پوری داده چې ځنی له دوی څخه مصنوعی القاح ته اړتیا لری چې علت یی دزیاتی غوښی درلودل دی. په دی برخه کی کولی شو فیل مرغ دمثال په توګه وړاندی کړو.

ب) د اکثرو الوتونکو باندنی اندامونه او غړی سره ورتوالی لری. ولی د سر، غاړی او پښو په برخه کی د الوتونکو ځانګړتیاوی وجودلری چې دهغوی په تشخیص کی مرسته کوی. **د پاورپواینټ څلورمه ګڼه صفحه یا سلاید**

**د ۳-۱TMدرسی مواد او دپاورپواینټ د ۵، ۶ او ۷ ګڼې سلایدونو څخه چې دالوتونکو دجداوالی په مشخصاتو او دچرګ داعضاو په ښودلو کی مرسته کوی، ګټه واخلئ. همدارنګه له زده کونکو غوښتنه وکړی چې بعضی له سلایدونو څخه په خپلو نوټونو کی رسم کړی. اطمینان حاصل کړی ترڅو د انځور په داخل کی ټولی مهمی اعضاوی په نښه یا ورته نوم ورکړی.**

**دویمه موخه:** دپولټری(مرغداری) داصطلاح ګانو تشخیص.
**اټکل شوی مشکل:**دمرغدارۍ (پولټری) پوری مربوطی اصطلاح ګانی؟

**دمرغدارۍ(پولټری) پوری دتړلو اصطلاحاتو لست وړاندی کړی. له شاګردانو څخه وپوښتئ چې کوم تعداد زدوه کونکی کولی شی چې کم تر کمه د۵ کلمو تعریف وکړی. له څو زدوه کونکو څخه وغواړی چې بعضی اصطلاحات تعریف کړی او دغه بحثونه دویمی موخی ته متوجه کړی.**

II. په مرغدارۍ کی بعضی اصطلاح ګانی وجود لری چې په هغوی باندی پوهیدل ضروری دی.

الف) چرګان دهګیو ورکونکو په نوم(چرګانی) او په هغه چرګانو چې دکباب کولو په خاطر استعمالیږی صنف بندی شوی دی. هګۍ ورکونکی دهغه ګروپ چرګانو (ښځینه) څخه عبارت دی کوم چې دزیاتو هګیو دتولید په خاطر روزل کیږی. له هګیو څخه د غذا او دچرګوړو دتولید په خاطر کار اخستل کیږی. برویلر(Broiler) هغه ګروپ چرګان دی چې د ۶-۷ هفتو په عمر کی ۱,۸۱ کیلو ګرامه وزن اخلی ددی وجهی چې نازک دی نو دغوښی په نسبت ترې استفاده کیږی.

ب) چیګ یا چرګوړی دجنس(نر،ښځه) او دعمر د اوږدو په نسبت ګروپ بندی کیږی. نوی زیږدلی صرف د جنس له نظره د چیګ یا چرګوړی په نوم یادیږی. چې نارینه چرګوړی د کوکریلCockerel په نوم یادیږی.دنارینه جنس غټ چرګان د Roosters یاچرګ په نوم یادیږی. ښځینه غټ چرګان(چرګانی) د Pullets یا تازه هګیو ورکونکو په نوم یادیږی. ډیرعمر لرونکی ښځینه چرګان د Hens یا چرګو په نوم یادیږی. د Hen اصطلاح مرغاوی(ښځینه)،فیل مرغی او ښځینه قرقاول ته چې ډیر عمر ولری ویل کیږی.کم عمره او لنډ چرګوړی د Bantams په نوم یادیږی.

ت) فیل مرغان نظر مشخصو نوعو ته دمختلفو نومونو لرونکی دی. نر بالغ فیل مرغ د

Tom یا Gobbler په نوم یادیږی.ځوان فیل مرغ ته چی له هر جنس څخه وی Poult ویل کیږی.

ث) مرغابی لرونکی دنرمو بنو دی چی دبنکو لاندی زرغونیږی.نر بالغ مرغاوی ته Drake وایی.دمرغاویو بچیو دواړه جنسونه(نر او ښځه) دDuckling په نوم یادیږی.

ج) ځوانی بتی د Gosling په نوم یادیږی.

**د ۳-۲TM درسی موادو او ۹، ۱۰ او ۱۱ ګڼی سلایدونو څخه دمرغداری داصطلاحاتو په مورد دبحث لپاره ګټه واخلئ.**

دریمه موخه. دمرغداری(الوتونکو) دقسمونو او نوعو لست او تشریح.

**اټکل شوی مشکل:** دپولټری یا الوتونکو نسلونه، قسمونه او نوعی له څه قراره دی؟

III. د الوتونکو په ساتنه کی دنوعی ، قسم او نسل په هکله صحیح تصمیم نیول او لازمه پوهه مهم ګڼل کیږی.

الف) دچرګانو څلور ګروپه یا صنفونه وجودلری:

۱. مدیترانه ای
۲. امریکایی
۳. انګلیسی
٤. آسیایی

دا انواع د ځانګړو ځانګړتیاوو لرونکی دی چی دهغوی په واسطه یو له بل څخه جدا کیږی لکه دهګیو رنګ، پوستکی رنګ، سترګو رنګ، دغوږ نرمۍ او دوزرونو او بنو رنګ. **دپاورپواینټ ۱۲، ۱۳ او ۱۴ ګڼی سلایدونه.**

**ب)** فیل مرغ د مختلفو انواعو لرونکی دی، ولی سپین لوی او دپلنی سینی لرونکی یی معمولی نوع ګڼل کیږی. دفیل مرغ دانوع د دوه رګه په نتیجه کی لاس ته راځی.ددی نوع فیل مرغ نر جنس د توری ږیری لرونکی وی او ټولی نوعی یی د سپینو پښو،مښوکی او پنډیو لرونکی دی، . **د پاورپواینټ ۱۵ ګڼه سلاید.**

**ت)** دمرغاویو هغه نسلونه یا نوعی چی دغوښی دتولید په منظور ساتل کیږی عبارت دی له: Call (کال) او سویدنی، Rouen، سپین پیکین، اولیسبری،، مسکواو کایوګا. دفیل مرغ نوعی چی هګۍ ورکوی شاملی دی په : خاکی کیمبل او اندین رنر. سپین پیکین دفیل مرغ عادی نوعه ده چی دغوښی دتولید لپاره تری ګټه اخستل کیږی. دسپین پیکین نوعی وزن دبلوغ پروخت ۳،۶ ګیلو ګرامه وی چی دچین هیواد څخه یی سرچینه اخسته ده. ددی نوعی فیل مرغ بنکی سپینی او پوستکی یی زیړوی. دفیل مرغانو دانوعه ډیر عصبی او نا ارامه وی او دهګیو رنګ یی سپین وی . **دپاور پواینت ۱۶ او ۱۷ ګڼی سلایدونه.**

**ث)** بتی Geese په ټوله نړۍ کی شتون لری. له بتو څخه د غوښی، هګیو،بنو، نازکوبنو او دنباتاتو دللون په خاطر ګټه اخستل کیږی.دبتو پنځه معمولی نوعی عبارت دی له:

۱. تولوس Toulouse

۲. ایمبدن
۳. چینایی
٤. پلگرم (مهاجر)
٥. افریقایی

**دپاور پاینټ ۱۸ ګڼه سلاید**

**د ۳-۳:TM درسی موادو لکه دغټ ښودونکی(پراجکتور) ورقه یا نوټ څخه دچرګانو دقسمونو،نوعو او نسلونو دبحث په خاطر کار واخلئ.**

**خلاصه یا لنډیز:** دزدوه کونکو د زده کړی له موخو څخه ددی درس د لنډیز په حیث ګټه واخلئ.زده کونکی د مربوطه محتویاتو دتشریح لپاره چی هره موخه وی راوغواړئ. ترهر څه دمخه دزده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چرګان دژوندیو مجوداتو په حیث تشریح او دهغوی باندنی غړی مشخص کړی. وروسته زده کونکی د مرغداری مربوطه اصطلاحاتو تعریف ته راوغواړئ. په اخره کی له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو دالوتونکو د قسمونواو نوعو لست جوړ او تشریح کړی.
**د اجرا(کړنې) لاندی نیول:** داجرا یا کړنی په خاطر کولی شئ زده کونکی د چوچه کشی(چرګوړوتولید) پوری مربوطو کړنوکی په کار بوخت کړی.

**ازموینه:** ازموینه باید دشاګردانو دزده کړی په موخه په هر درس کی مرکزی بڼه ولری. په دی برخه کی کیدی شی چی د مختلفوتخنیکونوڅخه لکه د اجرا یا کړنی لاندی نیولو پوری مربوطه کارونو څخه ګټه واخستل شی. تحریری ازموینه ددی سند سره ضمیمه وړاندی کیږی.

**دمثالی ازموینی ځوابونه**

**لومړی جز: مطابقت یا اړیکه ورکول**
1 = a, 2 = h, 3 = d, 4 = e, 5 = b, 6 = c, 7 = f, 8 = g

**دویم جز: مکمل یا پوره کول**
۱. چرګ Rooster
۲. چرګی
۳. هګی ورکونکی چرګان
. چرګوړی (poult)
٥. دبتی بچی
٦. کبابی چرګ

**دریم جز: لنډ ځواب**
دځوابونو د ارایه کولو په خاطر دالوتونکو قسمونو او نوعو ته رجوع وکړئ.

**د ۳-۱ مثالی ازموینه**

**نوم** ____________________

ازموینه

**لومړی جز : مطابقت یا اړیکه ورکول**

لارښوونه: اصطلاحات دصحیح ځواب سره سم ارایه کړئ.داصطلاح توری نظر تعریف ته ولیکئ.

**لومړی جز : مطابقت یا اړیکه ورکول**

لارښونه: اصطلاحات دصحیح ځواب سره سم ارایه کړئ.داصطلاح توری نظر تعریف ته ولیکئ.

الف) بانتماس
ب) مرغاوی(نر) drake
ت) پولتری الوتونکی
ث) ځوان چرګ
ج) ځوان مرغاوی
ح) بته
خ) چرګوړی cockerel
د) قاز( نر)

________ ۱. نارینه بالغ قاز(بته)
________ ۲. دچرګ بچی له دواړو جنسونو(نر،ښځه)
________ ۳. ځوان مرغاوی له دواړو جنسونو(نر،ښځه)
________ ٤. بالغ نر مرغاوی
________ ٥. دکورنی الوتونکو دیو ګروپ نوم دی چی دغوښی،هګیو او ښو په خاطر تر استفادی لاندی نیول کیږی.
________ ٦. ښځینه بالغ قاز(بته)
________ ۷. ځوان نارینه چرګان

**دویم جز: مکمل یا پوره**

**لارښونه:** دلاندی جملو دپوره کولو لپاره کلیمی ارایه یا ولیکئ:

۱. __________ دبالغ نارینه چرګ څخه عبارت دی
۲. __________ دښځینه بالغ چرګ(چرګی) څخه عبارت دی
۳. __________ دځوانو چرګانو څخه عبارت دی چی دهګیو دزیات تولید لپاره تر استفادی لاندی نیول کیږی.
٤. ځوان فیل مرغ له دواوړ جنسونوڅخه د __________ په نوم یادیږی.
٥. ځوان قاز د __________ په نوم یادیږی.
٦. __________ دځوانو چرګانو څخه عبارت دی چی عمر یی د ۶ نه تر ۷ هفتوپوری او وزن یی ۱،۸ کیلو ګرامو ته رسیږی اود نازک والی له پلوه د غوښی په منظور د استفادی لاندی نیول کیږی.

**دریم جز: لنډ ځواب**

لاربښونه: ددی سوالونو دځوابونو لپاره معلومات برابر کړئ .

وواياست چی کوم چرګان ساتئ او دڅه لپاره يی ساتئ؟






**TM: 3-1**



سترګه
مښوکه
دوېښتو جالی
تاج شکله
ږیره
فیلمرغ




تېغې
سرېښې
تاج
تېغ
سترګې ګړی
غوږ
مښوکه
غوږ نرمی
ږوځکی
چرګ




سترګه
د پوزې لار
مښوکه
لوبیا شکله جوړښت
مرغابی

## دمرغداری اصطلاح ګانی

- Layers دهغه چرګانو څخه عبارت دی چی دهګیو دزیات مقدارد تولید په خاطر تری استفاده کیږی.

Broilers دهغه ځوانوچرګانو څخه عبارت دی چی ۴ پونډه وزن او د۶-۷ هفتی عمر لری او دنازک والی له پلوه دغوښی په منظور تر استفادی لاندی نیول کیږی.

دچرګانو بچی دواړه جنسه (نر،ښځه) د Chick په نوم یادیږی .
ځوان نر چرګ د Cockerels په نوم یادیږی.

نربالغ چرګان د Rooster یا چرګ په نوم یادیږی.

ځوان ښځینه چرګان د Pullet په نوم یادیږی.

بالغ ښځینه چرګان hen یا (چرګاني) په نوم یادیږی.

لنډ چرګان دBantams په نوم یادیږی.

نربالغ فیل مرغ Tom یا Gobbler په نوم یادیږی.

ځوان فیل مرغ له دواړوجنسونو(نر،ښځه) د poult په نوم یادیږی.

بالغ نر مرغاوی د Drake په نوم یادیږی.

دمرغاویو دواړه جنسه(نر،ښځه) د Duckling په نوم یادیږی.

ځوان قازونه د Gosling په نوم یادیږی.

نارینه بالغ قازونه د Goose په نوم یادیږی.

بالغه ښځینه قازه(بته) د Goose په نوم یادیږی.

# دبعضی عادی الوتونکو(چرګانو) دنوعو مشخصات

| طبقه،نسل یا نوع | هګی | پوستکی | تاج | سترګی | غوږنرمی | پندی | بنی،وزرونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **مدیترانه ایی** | | | | | | | |
| Leghorn (White) | سپین | زیر | یو(واحد) | قرمزته مایل سور | سپین | زیری | سپین |
| تبصره: اکثره کوچنی جوسه چرګان چی دهګیو دتولید په بنا تری استفاده کیږی - وروکی چرګ یا Leghorn یی دمعمولی نوعی څخه شمیرل کیږی. | | | | | | | |
| Minorca (Black) | سپین | سپین | یو(واحد) | قهوه ایی | زیر | پوخ ارغوانی | تور |
| Andalusian (Blue) | سپین | سپین | یو(واحد) | سور قرمزی ته مایل | زیر | پوخ ابی خاکستری | خاکستری ته مایل ابی |
| **American:** | | | | | | | |
| Plymouth Rock (Barred) | قهوه ایی | زیر | یو(واحد) | قرمزی ته مایل سور | زیر | زیر | Barred (Sex-linked) |
| تبصره: دوه مقصده ، دهګی اچول پر محال دجنسی عمل په صورت کی تر استفادی لاندی نیول کیږی. | | | | | | | |
| Plymouth Rock (White) | قهوه ایی | | یو(واحد) | قرمزی ته مایل سور | سور | زیر | سپین |
| تبصره: هدف عمده – جوجه مرغ برای کباب | | | | | | | |
| New Hampshire | قهوه ایی | زیر | | سور قرمزی ته مایل | سور | زیر | سپین |
| تبصره: عمده موخه– چورګوری دکباب لپاره | | | | | | | |
| Rhode Island Red | قهوه ایی | زیر | یو(واحد) | سور قرمزی ته مایل | سور | زیر | پوخ سور |
| تبصره: دوه مقصده | | | | | | | |
| **English:** | | | | | | | |
| Cornish (White) | قهوه ایی | زیر | نخودی | مروارید | سور | زیر | سپین |
| تبصره: د دوه مقصده کولو لپاره په کار راځی. | | | | | | | |
| Australorp | سپین رنګه | سپین | یو(واحد) | قهوه ایی | سور | پوخ ارغوانی رنګه دپښو لاندی برخه سپینه ده | تور |
| تبصره: د دوه مقصده تولید په خاطر استفاده تری کیږی. | | | | | | | |
| **Asiatic:** | | | | | | | |
| Brahma (Light) | قهوه ایی | زیر | نخودی | قرمزی ته مایل سور | سور سور | زیر- بنی لرونکی | کولمبیایی (تور او سپین) |
| تبصره: د دوه مقصده کولو په خاطر دغوښی دتولید لپاره په کار ورل کیږی | | | | | | | |